وبهجان شادات سعادت ساختیم
تابردم گوکه باشد بپایان میرسد اثر علم و شهامت ما

شهادت

(٤) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (٦٦٦) سال شانزدهم شمارهٔ ٥٤ يکشنبه ١٠ اسد ١٣٧٢ هـ ،ش ١٣صفر ١٤١٤ هـ ،ق اول آگست ١٩٩٣ م .

بيه: يوه روپي يا ٥٠ افغاني

دروسي الوتکودوحشيانه بمبارله امله په بدخشان کي ٢٠ تنه هيوادوال شهيدان شول

بدخشان – دزمري ٨ :

دبدخشان ولايت څخه رارسيدلي خبرونه وائي چي تيره ورځ دروسيي الوتکو دبدخشان ولايت په مختلفوسيمواندي سختي بمباري وکړي چي ددي بمباري له امله زيات مالي اوځاني تلفات زموږمظلوموهيوادوالوته اړول شويدي .

خبرځاي زياتوي : ددغي بيدريغه بمباري له کبله زموږ ٢٠ تنه مظلوم هيوادوال شهيدان او ٣٠ تنه نورسخت ټپيان شوي اوزيات کلي اوکورونه له خاوروسره برابرشوي دي اوهم فصلونو اوباغونوته سخت زيان رسيدلي .

مقامات وزارت دفاع امريکاحمله بردافع هواي عراق رااشتباه خواندند

واشنګټن – ٩ اسد :

مامورين وزارت دفاع امريکا ميگويند: که پيلوت هاي دوطيارهٔ بحريه امريکاکه بربطريه هاي دافع هواي عراقي بروزپنجشنبه حمله کردند دراين اشتباه بودندکه عنقريب بالاي آنهافيرصورت خواهدگرفت . مامورين وزارت دفاع امريکا ديروزگفتند: که پيلوت هاي امريکائي راهدارمراقبت زميني عراق را به غلط فکرکردند که براي کنترول طيارات وفيرراکت هاي دافع هوا ميباشد . طيارات امريکائي منطقه منع پرواز رادرجنوب عراق گزمه ميکردند . عراق خبرحمله برمواضع راهدارخودرا درمنطقه جنوبي تکذيب کرده است .

دافغانستان داسلامي حکومت صدراعظم ورور حکمتياردبي بي سي خبريال دپوښتنو په ځواب کي :

موږبه هيڅ صورت په هغه مذاکراتوکي برخه نه اخلو چي افغانستان اوتاجکستان دقضيي داصلي اړخونو په حيث يکي ځرګندشي

افغان مجاهدين دتاجکستان په داخلي شخړوکي قطعاً برخه نه لري

روسان بايدزموږبه سرحدي کليو باندي بمباري متوقف کړي

افغانستان دتاجکستان دحکومت اواپوزسيون ترمنځ منځګړيتوب ته تياردی

مورغوارو قضيه دخبرواترو له لاري حل وفصل شي

دزمري ٨ :

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ورور حکمتيارو ويل : زموږحکومت په هيڅ توګه حاضرنه دي چي په څلورارخيزه خبروکي برخه واخلي . دهيوادصدراعظم ددي پوښتني په ځواب کي چي ستاسي نظرکابل ته دروسي هيئات په باب څه دي؟ وويل : داسه انکشاف دي اميددي چي روسان ددي ترڅنګ زموږبه سرحدي کليوباندي بمباري هم متوقف کړي اوله هغواقداماتونه چي اوضاع نوره هم متشنج کوي، لاس واخلي. ورورحکمتيار وويل موږغوارو قضيه دخبرواترو له لاري حل وفصل شي .

دهيوادصدراعظم ددي پوښتني په ځواب کي چي : تاکل شويده په نږدي ورځوکي په دوشنبه کي دتاجکستان دستونزي په هکله دري اړخيزه خبري پيل شي ،ددغوخبروپه هکله ستاسودحکومت نظرڅه دي ، وويل : زه بايدووايم چي دکابيني وروستي جلسي درابوبه اتفاق دافيصله وکړه چي دقضيي اصلي اطراف دتاجکستان حکومت اواپوزيسيون دي ،دامسئله هم بايدددي دواړواصلي طرفونوترمينځ دخبرواترو له لاري حل فصل شي. هغه زياته کړه که دوي وغواړي اوداکارضروري وګڼي چي افغانستان ددوي دواړوترمينځ په مذاکراتوکي دمياځي په حيث شرکت وکړي موږبي کړاي شواوکه دااصلي اطراف لازمه وګڼي چي پدي مذاکراتوکي مسکوهم شرکت وکړي کولاي شي خوموږبه هيڅ صورت کي پدغسي مذاکراتوکي برخه نه اخلو چي داوسودلي شي چي افغانستان اوتاجکستان دقضيي اصلي اطراف دي اومسکوياازبکستان ديومياځي

۳مخ

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم دقبائيلو يوه ډله مشران دخبرو لپاره څپل حضورته ومنل

چارآسياب – دزمري ٨ مه :

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ورورحکمتيار دوي ورځي مخکي دپاره چناراوکرمي ايجنسي دقبائلوحيثي مشران دخبرولپاره ومنل .

دعظمي صدارت له موقت دفترڅخه دشهادت خبريال خبراکوي چي پدي کتنه کي دعظمي صدارت په موقت دفترکي وشوه ،دپاره چناردولسوقوموقومونو نماينده ګانودهيوادله صدراعظم ورورحکمتيارسره څپل بشپړملاتړاعلان کراوهغه ته ئي دهردول مرستي په باب دادورکړ .

خبريال ليکي چي نوموړو مشرانوورورحکمتيارته دنوي کابيني دکاردپيل په باب مبارکي وويله اوله قديرخداي څخه يي ورته دپوره برياليتوب غوښتنه وکړه .

دماليي وزارت کميسيون دنويو نوټونو چاپول تصويب کړل

بي بي سي – دزمري ٨ مه :

دبي بي سي راډيووړمه ورځ دافغانستان داسلامي دولت دماليي دوزير کريم خليلي له خولي وويل چي دافغانستان دماليي وزارت کميسيون فيصله کړي چي وروسته

کريم خليلي

له دي به افغاني نوي نوټونه چاپ کړي ترڅودانوي چاپ شوي نوټونه داوسنيوهغويي پښتواني نوټونوځاي ونيسي چي په روسيه کي چاپيږي .

استادخليلي زياته کړي دنووافغانيونوټونو دچاپولوکاربه هغه وخت پيل کيږي چي دجمهوري رياست مقام دغه فيصله تصويب کړي هغه ويلي چي داتصويب هم شوي چي وروسته له دي به هيڅکله افغاني نوټونه په روسيه کي چاپ نشي .

ده داخبره کړي چي دافغانستان اسلامي دولت به وروسته له دي داسي نوټونه چاپ کړي چي داسلامي انقلاب برياليتوب پکي تمثيل شوي وي .

کريم خليلي ويلي چي دنويونوټونوترڅنګ به زاړه نوټونه هم چليږي ده ويلي چي موږ به هڅه وکړو چي ديوه ډالربيه د٥٠٠ افغانيو سره برابره شي په داسي حال کي چي اوس ترزروافغانيوزياته ده

په کابل کي دکولرانارو ځي مخ په زياتيدو ده

کابل – دزمري ٨ مه :

دکابل څخه رارسيدلي خبرونه وايي چي په کابل کي دکولرادناروغانوشميرورځ په ورځ مخ په زياتيدو دي اوپه سلګونوخلک ددي مهلک مرض سره لاس په ګريوان شوي دي.

خبرځاي وايي چي نوموړي ناروغي اوس دهيوادبيلابيلو ولايتونو ته نقل شوي اوګڼ شميرخلک ئي دستونزو سره مخامخ کړي دي .

په خبرکي زياته شوي چي دنوموړو ناروغانو لپاره بشپړه دواموجوده نده اوپه ځينوسيموکي ئي خلک دمرګ دخطرسره مخامخ کړي دي.

يکهزاروچارصد داکترخارجي ايران راترک گفته اند

تهران– ٩ اسد :

بعدازپائين آمدن ارزش پول رايج ايران اکثرداکتران خارجي که درايران کارميکردند ازآنکشورخارج شده اند آژانس خبررساني رويترگزارش ميدهدکه بعدازپائين آوردن ارزش ريال ايران ازجانب حکومت آنکشور درحدوديك هزاروچهارصدداکترآنکشورراترك گفته اندزيراکه معاشات شان به ريال تاديه مي شدوبحساب دالر امريکائي کمترگرديد. گزارش ميگويدکه تعداد فزاينده فارغ التحصيلان فاکولته هاي طب ايران نيز ازآنکشور خارج مي شوند. طبق گزارش رويتراحصائيه هاي وزارت صحيه ايران نشان ميدهدکه تاماه مارچ سال ١٩٩١ دوهزاروهفتصد داکترخارجي درايران کارميکردند .

دهيوادصدراعظم وروړحکمتياردعظمی صدارت په مؤقت دفترکي دپکتياوپکتيکاولايت استازو سره وکتل

چارآسياب – دزمري ٨ مه :

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ورورحکمتيار دپنجشنبي په ورځ ترغرمي مخکي دپکتيااوپکتيکاولايت دبوشمير استازوسره دعظمي صدارت په موقتي دفترکي وکتل .

دشهادت خبريال دعظمي صدارت له موقتي دفترڅخه خبراکوي چي پدي غونډه کي په هرارخيزوخبروباندي بحث اوغورروشو خبريال ليکي چي نوموړواستازودهيوادصدراعظم محترم ورورحکمتيار ته دنوي کابيني دکاردپيل په باب مبارکي وويله اوخپل بشپړملاتړئي له ورورحکمتياراودهيواددکابيني له غړو سره اعلان کړ .

خبريال ليکي چي نوموړو استاذوپه خپلوولايتونو کي دولسواليواوعلاقداريوپه باب له ورورحکمتيار څخه په زړه پوري مشوري واخستي اوورورحکمتيار هغوي ته دهردول همکاريو په باب ډادورکړ .

خبريال زياتوي چي پدي

۳مخ

مقامات قضايي ايران برپوشيدن حجاب اسلامي زنان تاکيدنمودند

واشنګټن – ٩ اسد :

مامورين وزارت دفاع امريکا ميگويند: که پيلوت هاي دوطيارهٔ بحريه امريکاکه بربطريه هاي دافع هواي عراقي بروزپنجشنبه حمله کردند دراين اشتباه بودندکه عنقريب بالاي آنهافيرصورت خواهدگرفت . مامورين وزارت دفاع امريکا ديروزگفتند: که پيلوت هاي امريکائي راهدارمراقبت زميني عراق را به غلط فکرکردند که براي کنترول طيارات وفيرراکت هاي دافع هوا ميباشد . طيارات امريکائي منطقه منع پرواز رادرجنوب عراق گزمه ميکردند . عراق خبرحمله برمواضع راهدارخودرا درمنطقه جنوبي تکذيب کرده است .

ولايتي وزيرخارجهٔ ايران خواستارمقابلهٔ جهان اسلام بااسرائيل شد

دمشق – ٨ اسد :

دکتورعلي اکبرولايتي وزيرخارجهٔ ايران دردمشق، مذاکراتي باآقاي فاروق الشروزيرخارجه سوريه داشت. قبل ازاين مذاکرات ولايتي پيامي را ازسوي هاشمي رفسنجاني رئيس جمهور ايران به حافظ الاسدرئيس جمهورسوريه تقديم کرد .

راديوي جمهوري ايران خبردادکه ولايتي دراين سفربارهبران حزب الله دردمشق نيز ديدارداشته است وبه نقل ازولايتي گفت: که براي جهان اسلام مهم است که ازلبنان درمقابل حملات اسرائيل دفاع کنند. راديوايران افزود: دکتورولايتي بازگشت به تهران را به تعويق انداخته است تا بتواند مذاکراتش رابارهبران سوريه، درموردلبنان ادامه دهد .

ديلتسين ځانګړي استازي کابل ته راورسيد

کابل – دزمري ٨ :

له کابل څخه دارارسيدلوخبرونوله مخي وبل کيږي چي دوه مه ورځ دروسيي ، دجمهوررئيس يلتسن يوځانګړي استازي دروسيي دملي امنيت سرپرست دخبرواترولپاره کابل ته ورسيد .

د افغان اسلامي آژانس دکابل راډيو په حواله وايي چي ديلتسن استازي ته دکابل په هوايي ميدان کي ډاکترنجيب الله لفرائي اوددفاع وزارت لوړرتبه مامورينو هرکلي ووايه .

خبرځاي ليکي چي دااستازي به په کابل کي دخپل اوسيدو په موده کي دافغانستان داسلامي دولت له

۳مخ

چراپايه هاي حکومت اسلامي قوام نمي گيرد ؟!

تقريباً پنج ماه ازعمرحکومت جديدگذشت،ولي هنوزپايه هاي آن ازچنان قوامي برخوردارنيست که بتوانيم نامش را به مفهوم واقعي کلمه حکومت بگذاريم . متون تعهدات اسلام آباد،مکهٔ مکرمه وجلال آباد بمثابهٔ شعارهاي اندکه هنوز ازقوه به فعل نيامده است، هرچنددرظاهرامردرخلال اين مدت يك سلسله کارهاي شکلي اي صورت گرفت که درجاي خودبراي ملت اميدوارکننده بود، ولي عوامل واسباب اصلي بحران هنوزمرفوع نگرديده وطرف هاي متخاصم درخفامصروف صف آرايي رواني عليه يکديگراند

شايدبعضي هاچنان گمان ببرندکه مردم طي سالهاي فتوربه جنگ وويراني وعهدشکني وعوامفريبي تشنگان قدرت عادت گرفته اند، لذا توسل بعمل مغايرارزش هاي اسلامي خلاف کرامت انساني،دردادگاه ملت مورد احتساب قرارنميگيرد ،ولي اين پنداربوچ ومهمل است . سنت الهي همانست که هيچ عملي رابدون پرسش ومواخذه نمي گذارد ،همانطوريکه زمامداران سلف کابل بامهلت يافتن چندصباحي درکرسي اقتدارآزموده شدند وهريك پاداش اعمال خودراچشيدند، درصورتيکه زمامداران فعلي هم درنقش قدم آنهاگام بگذارند ، سرنوشت بهترازآنها درپيشرونخواهند داشت .

برهيچکس پوشيده نيست که طرف هاي ذيدخل باوجودتعهدات مکرر، برمعهودبه صادقانه ومخلصانه عمل نمي کنند، مسابقه براي کسب قدرت، اتهام بستن ها ، بي اعتمادي ها وجلب وجذب بسوي اهداف شخصي وگروهي ،همچنان ادامه دارد. قراربودکه بعدازدوماه شوراي قوماندانان،وزراي دفاع وداخله راتعيين نمايد، ولي اينکار هنوزتحقق نيافته است، وزارت دفاع همچنان دردست يك گروه قراردارد وکميسيوني که بايست سوق واداره نيروهاوکارتشکيل اردوي اسلامي راروي دست مي گرفت، هنوزمجالي براي تدويرمجالس نيافته است، چه رسدبه اتخاذ تصاميم وعمل برآن، باوجود فيصله هاي مکررشوراي وزيران ،گروپ هاي مسلح غيرمسئول هنوزازشهرکابل خارج نشده اندو قواي پوليس براي اتخاذ امنيت شهرتشکيل نگرديده است ، گروههاي که درداخل شهرسنگرگرفته اند ،هنوزدفترصدارت عظمي وملحقات آنراتخليه

٤مخ

سخن روز

انفلاسیون زموږ داقتصاد ستره غمیزه

ناگار

داسلامي انقلاب اواسلامي حکومت دکاربندي لپاره په نړیوال ډگردبنکیلاك له خوادومره چټکي هلي ځلي گالل کیږي ،چي له حساب وتي خبري ښکاري. له یوي خوالویدیځ مطبوعات اواژانسونه پخپله پرامریکا تنقیدکوي ، چي که له افغانانو سره بې مرستي نه وي کړي ، نوڅن به په اسلامي نړي کي وسله وال جهاد دستونزي حل نه گڼل کیده .تردي چي دامریکا پانو په فکردامریکادتجارتي چارویه نړیواله مانۍ کي تیره لویه چاودنه افغاني مجاهدینواویابي مرستیالانوکړیده ،پدي مانا چي که دچاودني مسؤول افغانان ندي ،نوهغه عرب مسلمانان خوضروردي ،چي پدي جهادکي یې په یوه نه یوه ډول برخه اخیستي ده.نوځکه دخطرزنگ غږوي ،چي دمسلمانانو دآزادي خوځښتونه دنړي دامنیت له پاره یولوي خطر دي .بنایي ،له لویدیزومطبوعاتو نه هیرشوي وي ، چي یووخت سره پوځ په ویتنام کي پرامریکایانو بختي راوستي وه ،له افغانانو سره دلویدیځ د ناامیده شوي کفرمسته دنړیوال ښکیلاك ارتیا وه ،نه دافغان جهاد تائید اوملاتړ . له بل اړخه په همدي اړوند دامریکا په قوماندة سورپوځ یوځل بیا دتاجکو مجاهدینو له ویري دافغانستان پر شمالي برخو برغلونه کوي ، او پدي ډول داسي انگیري ،چي یوخوبه دتاجکستان دکودتایي حکومت مخالفین وځپي ،اوبیا به بې پرگاونډي هیواد افغانستان ورواچوي ،اوهم به دافغانستان اسلامي حکومت چي ډیري زیاتي داخلي ستونزي لري ،دابه بې پرمشکلاتو یوه بله استعماري اضافه وي ، ترڅو په طبیعي ډول دخپلو مسایلو په سمندرکي لاهو اوپه تدریجي ډول له منځه ولاړشي. له همدي کبله په ډیر ناځوانمردانه ډول بدخشان ،تخاراونوري سیمي تربریدونو لاندي راولي ،اوپدي شکل غواړي ،خپل ځان یوځل بیا په یوه بي نتیجي جنگ کي راگیر کړي . لکه چي همدااوس دروس الوتکودبمباري له کبله پرنوروتلفاتوسربیره په بدخشان کي شل تنه شهیدان شویدي ،خوله دي ټولو ربړوسره سره دافغانستان اسلامي حکومت مخ په وړاندي درومي ،اوخپل تخلیقي پلانونه پلي کوي. پدي ترځ کي دمالیي دوزارت دغه غوښتنه اوپریکړه چي دافغانیونوټونواوسني شکل باید بدل شي . زموږداقتصادي پرمختگ له اصولو گڼل کیږي .ځکه زموږملي اقتصاداوښتمني نن سبا له یوه بدانفلاسیون سره لاس وگریوان دي. ددغي پولي تورم دله منځه وړلو لپاره له دي پرته بله کومه لارنشته ،چي بایددغه نوټونه نورکنترول اوچاپ نشي ، ځکه داقتصادي اصولو له مخي کومي پیسي چي پشتوانه ونه لري ، دیوه هیواد داقتصادلپاره دزهرقاتل حیثیت لري. زموږمجاهدملت خبردي ،چي دغه نوټونه روسي دنجیب دحکومت د ټینگښت لپاره په روس کي بې سرویوله چاپیدل ،خوڅه وخت چي بیا امریکادایتلافي حکومت په چلند کي دلچسپي واخیسته ،دایتلافیونودځواکمني لپاره دامعیارځوچنده پورته شو. دبي بي سي درادیو په استناددغه پیسي دروس له خواایتلافي رژیم ته پدومره پیمانه رااستول شوي ،چي خبره یې له شماروتي ،وزن اوتللو ته رسیدلي ده نوچي واقعیت داسي دی، نوددغي نوټونو بندول څه چي حتي دغیر قانوني گرځولو پرته بې بله هیڅ لاره نشته .زموږایمان پالي هیوادوال خبردي ،چي ددغي پولي تورم په باب لاډیرپخوادحزب اسلامي مجاهد امیر اوداسلامي حکومت صدراعظم وخت پروخت لازم توضیحات اونظریات وړاندي کړیدي ،اوخپلو مومنوپرگنوته یې ځرگنده کړي،چي باید له ځانه سره دغه بې پشتوانې نوټونه ونه ساتي ،روس یوازي زموږپرهیواد د پوځي تیري مجرم ندي ، بلکي زموږدهیواد د اقتصاد خون هم وریه غاره دي. اوکه داسي نه وي ، نو روس څه حق لري ،چي دنجیب دملحدرژیم له سقوط وروسته بیا هم افغاني چاپوي ،اودکي الوتکي رااستوي .حال داچي روس دغه کاردناخبري اوتغافل په فضاکي ندئ کړي . بلکي پدي باب څو ځلي دروس سفیر ته دحزب اسلامي افغانستان دمجاهد امیر له خوادافغانانو تأثرات بربند شوي ،اوڅرگند شویدي . پروني روس دجهانکشایي خوبونه لیدل ، اوننی روس د امریکا په غیږکي دیوه گوداگي غوندي لوبیږي ، چي پدي دواړو صورتونوکي افغانانو اوبیا اسلامي نړۍ ته یوحیثیت لري .د روس ددادول غیرقانوني لاسوهنو دله منځه وړلو لپاره پرپولو دمقاومت سربیره باید دافغانانوغږاسلامي هیوادونو اوگردي نړۍ ته ورسول شي . او هم باید دافغانستان اسلامي حکومت ددغه پولي تورم دصقابي لپاره مناسب گامونه پورته کړي . ددولت رئیس هم باید دحکومت له دغي وړاندیزسره محتاطانه برخوردوکړي.

ځکه دمخالفت په صورت کي به بیا دافغان مجاهدولس داشکوك اوشبهات نورهم ځوچنده شي ،چي دغه افغاني چادچا داخپستلو لپاره ملي اقتصادته دبي اعتنایي بصورت کي فرمایش کړي ،اوچاپ شویدي. نو اوس چي لافرصت شته ،باید دخپلو داخلي اوبهرینوستونزودحل لپاره یوځل بیا دوروړگلوي اویووالي ثبوت ورکړو، اوداقتدارپاینبت دملت په تباهي کي ونه لټوو ، اودخپل اقتصاددبیاورېږي کیدلو لپاره باید له زراعت ،تجارت اوبانکي سیستمونو نه نیولي بیا ترپولي تورم اوانفلاسیون پوري پخپلي پالیسي اوپلان گذاري له سره تجدید اوغوروکړو. ځکه زموږ مجاهد ملت امتحان ورکړی اودخپل جهادي مشرتابه دازمويني شیبي شماري.

قریب الرحمن "سعید"

دگران هیواد افغانستان سیاسي حالات عجیب اوغریب لوري ته اوړي رااوړي ،دپرون ورځي دښمن دنن ورځي دملگرتیاله پاره هانداوهڅه کوي اود پرون ورځي دوست اوورورودي د بیخه دورکولو پسي رااخستي .که هرڅومره په خوله گرم اودصمیمیت نه ډك بریښي خوبه عملي توگه بیا دهیڅ کولو ته چمتو نه ښکاري .اوکله چي بیا دوردانگلو وخت راشي نو دعافیت گوښي ته ځان رسوي . په داسي حال کي چي ددوي ټولو ژوندیوپه بل پوري تښتي دي . کمونست عناصر په ډیره ماهرانه توگه خپل پلانونه پرمخ بیایي اوغواړي چي دغه حکومت چي اوس دجلال آباد دتړون تر مخ لږڅه پیروي نیولي هم دستونزو په نوروچالونوکي داسي راگیر کړي چي بیا خلك د مجاهدینو خولاڅه چي داسلامي حکومت اواسلام دنوم داخستوڅخه هم کرکجن واوسي.

دجلال آباد د ۲۰ ورځینو پرلپسي غونډو اوبیادهغي دنتایجوداعلان وروسته داسي بریښیده چي جهادي مشران به ټول په گډه پایتخت کابل ته تشریف راوړي اوپه دي حال کي به دیوه متحده ځواك په څیر یوموټي دبیروني عناصرپه مقابل کي دیوه خوله ماتونکي سوك په څیر عمل کوي. اودملت آرزواوامیدهم همداسي وُچي کله به ددغي ۱٤ کلن جهاد قایدین یوموټي اویوه خوله دهغوي له پاره دسولي اوامن اودیوه مستقر اوثابت حکومت زیري له ځانه سره راوړي . خومتاسفانه چي داهیلي هلته په ناامیدي بدلي شوي چي دجهاد مشران دجلال آباد دشاهي قصرنه په مختلفو لاروگام پورته کړ اوهریوبې دخپلو قبلي وعدو (!!) په اساس دنابللي میلمنوپه څیر دوعدو ځایونو ته ورسیدل .اوهغه څه چي ملت یې توقع درلوده ترسره نه شول . ځکه چي حکومت جوړښت وموند خوکاریې پیل نه شوکړاي ،وزیران وټاکل شول خووزارتونو ته نشواي تللاي ،بالاخره دقلعه حیدرخان دغونډي وروسته چي دجون دمیاشتي په ۱۷ ترسره شوه دوزیرانو له پاره دکارشرایط برابر شول .خو دصدراعظم له پاره دکاردشرایطو په برابرولو کي لاستونزي همغسي په خپل ځاي وي، ویل بې صدراعظم دي په عنعنوي دفترکي کارپیل کړي ،ورته وویل شول چي باید ټولي وسله والي قواوي دکابل دښارڅخه ووځي اوصدراعظم ته دي په عنعنوي دفترکي دکار دپیل له پاره زمینه برابره کړل شي .اوداسي نوري نوري خبري.

دبلي لوري دحزب وحدت اواتحاداسلامي شوراي نظار دځواکونو ترمنځ خپل منځني تمریني جنگونه روان وو. اوهریو بې دجنگ دپیل ملامتیاپه بل باندي ورغورزوله . دکابل ښار دکنډوالو سره برابرشو .خلك څه ووژل شول .څه وتښتیدل اوڅه بندیان اوزخمیان . په کابل کي چي په نظامي ځایو هره گولي راغورزیدلي هغه دراکټونو باران تصورشوي او اخوا په مخالفینو کي دهوایې بمباري په واسطه طوفانونه هم راغلي هیڅ گڼل شوي.

ددي ترڅنگ دجنگ دبندښت اودایمي سولي له پاره هم هلي ځلي رواني وي داسلامي دولت صدراعظم غوښتل دحزب وحدت او اتحا دترمینځ مینځگړتوب وکړي اواستاد عبدالعلي مزاري اواستاد سیاف په خپلومینځوکي سره کښینوي ،دهغوي دجنگیدلیوترمنځ دسولي نوځونه واچوي اودهغوي جنگیالي دخپلو مورچو اوسنگرونو څخه یوبو کیلومتر لري وټموي .دا موضوع حزب وحدت ومنله خوشرط یې داؤ چي دسولي فوځ به دحزب اسلامي قوتونه تشکیلوي .امااتحاد په دي هکله څه ملاحظات درلودل اودحزب اسلامي دپوځ دځاي په ځاي کولو ته تیارنه بریښیده .دبلي خوا نه استادسیاف دقاضي صاحب محمدامین وقاد اودحزب اسلامي دپخواني اجرائیه غړوپه شمول هغه اوهاندکاوه چي داحمدشاه مسعود اوانجنیرحکمتیارتر مینځ لیدلو له پاره زمینه برابره کړل شي اودنژدې همکاري اواعتماد فضارامنځته کړاي شي ،همدا راز دحضرت صاحب صبغت الله مجددي اوحزب وحدت دمسؤلینو لخواهڅه اوهاند کیده چي دحزب اسلامي اودشمال دجنبش (ملیشو) ترمنځ دتفاهم فضا پیداشي ترڅوپه کابل کي دامن اوامنیت په خاطر مثبت قدمونه واخستل شي . ایران هم خپله دبهرنیو چارو دوزارت معاون محترم بروجردي په کابل کي ځاي په ځاي کړي وترڅو دحزب وحدت اودجمعیت دمشرانو ترمنځ دسولي اوتفاهم فضا راپیداکړي اوپه دي ترتیب دوران ویجاړکابل دلازیاتي بربادي څخه مختیوي وشي.

دحزب وحدت اواتحاد ترمنځ دتفاهم خبري لاتراوسه شته اوهمداراز دنظاردشورادمسؤلینو اوحزب اسلامي ترمنځه هم دتفاهم لړي روانه ده اوهیله کیږي چي څه نتایج به ورکړي .خودنظار دشورا اوجمعیت دنظامي پراختیا سیاست په شمال کي اوهم په غربي سیموکي کله کله داهیلي څکه دناامیدي سره مخامخ کوي چي هغوي غواړي دحزب اسلامي مجاهدین په لري سیموکي ترفشارلاندي راوړي اوپه دي ترتیب به هغوتولو سیموباندي پخپله غصب وکړي . څکه چي دوي دلته دحزب قیادت دحکومت او حکومتداري په داخلي کرکیچنو کي راگیر کړي اوپخپله خپلو قوماندانانو ته په زرونو ملیونه افغاني دحزب دافرادو دله منځه وړلو په خاطر ورلیږي .په غرب کي دتورن اسماعیل خان اخري فوځ کشي په غور ،بادغیس اوفراه کي اوهمدارازپه شمال کي داحمدشاه مسعود لښکرکشي په کاپیسا ، پروان ، اوغوربند کي ددي خبري ښکاره ثبوت دي.

هغه څه چي دېرنوي حیرانوونکي تحولات یې منځته راوړل هغه دنوي تشکیل شوي گوند جنبش ملي د مشر جنرال دوستم کابل ته راتگ و. داراتگ په داسي وخت کي وشو چي ددولت رئیس استادبرهان الدین رباني دترکیي په لورپه استنبول کي دگدوسیمه ایزو اقتصادي تنظیم په کنفرانس کي دگډون په خاطر روان و. جنرال دوستم په پوره تشریفاتي توگه ترارگه یاجمهوري قصر پوري ورسول شواوهلته دپخواني پاچا دظاهرخان په حرم سراي کي میلمه پاته شو.

هغه داستاد رباني په غیاب کي تولو سیاسي کدرونو،دیپلوماتانو دکابینې دوزیرانو سره لیدني کتني کولي اودولتي خبري وسابلو دهغه خبر ته داولیت حق ورکاوه .چي دي کاردکابل دښاریانو اوسیاسي کدرونو ترمنځ داتشویش راپیداکړي و چي نوموړي گویاددولت دریاست کفیل دي ، اوځینو نورو یې داسي تبصري کولي چي څنگه چي احمدشاه مسعود هلته پرجبل السراج کي پخپلونظامي فعالیتونو کي مصروف دي اودبلي خوانځکومه رسمي دنده دلته په کابل کي هم نه لري نو په دي اساس ددولت رئیس دحزب اسلامي دتنظیم څخه چي مشري یې ددولت صدراعظم په غاړه لري .

تشویش درلود چي دهغه په غیاب کي کومه کودتاونکړي نوپه دي اساس یې ددوستم څخه وغوښتل چي دهغه په غیاب کي په حرم سراي کي میلمه پاته شي . که څه هم پخپله رشیددوستم په یوه لیدنه کي ویلي وچي هغه ته استادرباني لیك استولي و چي دلته کابل ته راشي اودهغه په غیاب کي کفالت وکړي .(خودد ي خبري کوم سند لاتراوسه نه دي ترلاسه شوي)

جنرال دوستم کابل ته دراتلو سمدستي وروسته ددولت دزئیس استاد برهان الدین رباني سره تفصیلي لیدنه درلوده په همدي ترتیب ددي جنرال دراتگ سره سم احمدشاه مسعود هم کابل ته راغي اوددوستم سره یې دراتلونکو پروگرامونو په هکله څوځلي لیدني کتني وکړي . ویل کیده چي جنرال دوستم په دي خاطر کابل ته راغوښتل شوي چي غواړي دحزب اسلامي اتحادي تنظیم حزب وحدت دحزب څخه جداکړي اوپه دي ترتیب دشوراي نظار ،حزب وحدت ، جنبش پخواني ائتلاف بیرته راژوندي کړي اوپه دي ترتیب حزب اسلامي چي ددوي دسترگو اغزي دي دمخي څخه لري کړي .دبلي لوري زمایودبرنژدي دوست چي دکابل په حکومت کي مهم شخصیت دي . اواوس دنظاردشورا په راژونوکي ورگډدي وویل چي حالات ډیر خراب په دي خاطرپه نظرراځي چي له یوي خوادنظار شورا غواړي دحزب اسلامي په ځواکونو هم په شمالي کي اوهم په غرب کي درندي حملي ترسره کړي. په شرقي برخوکي هم قوماندانان خریداري کړي اودبلي خوا ته دجنبش لځواکونه دحزب اسلامي په خلاف په جنگ کي راگیر کړي. اوپه دي ترتیب ددواړو دتضعیف اوکمزورتیا وروسته یوځل بیا ددواړو خواو څخه په کابل باندي درنده حمله وکړي او حزب اسلامي ته پوره پوره زیان وروورسوي . همدا راز هم هغه کیږي چي جنبش ،جمعیت اوشوراي نظاردپخواني ظاهرشاپانو سره یوځاي دمحاذ ملي دجهادي تنظیم دمشرپه هلوځلو غواړي یوداسي نظام رامنځته کړي چي په هغي کي دظاهرشاه خان په شمول تولوارخونو ته پوره پوره واکمني ورپه برخه وي . همداعلت وچي د محاذ ملي مشرپیرسیداحمدگیلاني هلته ترکیي ته راغي اوپه استنبول کي یې ددولت د رئیس محترم استاد رباني سره دوه ساعته تفصیلي خبري درلودي ،ددي ترڅنگ عبدالستارسیرت هم دظاهرشاه دنماینده په توگه ترکیې ته راغي اوداستاد رباني سره یې په دي هکله خبري درلودي دامریکا غږرادیو په دي هکله دانورالحق احدي څخه دیو مرکي په ترځ چي په ۲۹ دسرطان خپره شوه وپوښتل او هغه داسي وویل چي دافغانستان په خلکوکي پخواني پاچامحمد ظاهرشاه ډیرمحبوبیت اوسیاسي نفوذ لري ، په دي کي شك نه شته چي سیرت صاحب دپخواني پادشاه نماینده دي نوددهغي تشبث دبیشبیني ور حرکت دي . داچي ملگري ملتونه اوامریکایي مقامات دسیرت صاحب سره دملگروملتونو دسولي جوړولو درول دبیاژوندي کیدو په هکله موافقه وکړي اوکه نه ؟ که چیري هغوي دملگروملتواوظاهرشاه درول

۳مخ

پاکستان: پایان یک جنگ، آغازجنگ دیگری

نصیراحمد "حادث"

به تاریخ ۱۸ جولاي آقایان نوازشریف نخست وزیروغلام اسحق خان رئیس جمهور پاکستان ازوظایف خویش استعفي دادند. مجلس ملي منحل گشت وهمزمان درهرچهارایالت حکومت هاي جدیدمؤقت به رویکارآمد .

به اساس قانون اساسي پاکستان آقاي وسیم سجادرئیس مجلس سنا به حیث رئیس جمهور مؤقت زمام اموررا دردست گرفت وبه اساس توافق حاصل شده آقاي معین قریشي اقتصاددان مشهوربه صفت نخست وزیرمؤقت حلف وفاداري یادکرد .

بدین ترتیب جنگ چندماهه قدرت میان نوازشریف وغلام اسحاق خان پایان یافت ومردم پاکستان توانستند نفسي به راحت کشندزیراجنگ قدرت بصورت دیوانه وار میان دومرجع اعلي صلاحیت درپاکستان آنکشورراپسوي یك جنگ داخلي پیش میبرد .

بحران درپاکستان وقتي آغازیافت که آقاي نوازشریف نخست وزیروقت طي مفاهمه یي باخانم بي نظیربوتو رهبرحزب مردم که بزرگترین گروه مخالف درمجلس راحزب اوتشکیل مي داد خواست باآوردن تغییرات درقانون اساسي صلاحیت هاي رئیس جمهور رامحدود سازد ، رئیس جمهوربااین خواست نخست وزیربه مقابله برخاست وبدین ترتیب کشمکش شدیدي درپاکستان برسرقدرت آغازیافت .

دراین جریان رئیس جمهورونخست وزیرهریك خواستندحمایت حزب مخالف خانم بي نظیربوتو رابخودجلب کنند، خانم بي نظیربوتو که درمرحله نخست بانوازشریف وعده همکاري کرده بود نه تنها هیچگونه مساعدتي تکردبلکه غلام اسحق خان راتشویق نمودکه نوازشریف رااز کاربرکنارنماید، روابط روزبروزمیان رئیس جمهورونخست وزیرتیره میگردیدتاآنکه به تاریخ ۱۸ اپریل غلام اسحق خان مجلس ملي رامنحل وحکومت نوازشریف رامعزول نمود.

رئیس جمهوروطرفداران اوفکرمیکردندکه نوازشریف بافرمان ریاست جمهوري به مبارزه برنخواهد خواست وبالفرض اگراوبه محکمه شکایت هم کندمحکمه علیاي پاکستان برخلاف فرمان ریاست جمهوري راي نخواهدداد .

دردوران سي و نه (۳۹)روز حکومت انتقالي کشمکش میان غلام اسحق خان وبي نظیربوتو دوام داشت زیراخانم بي نظیربوتو میخواست تمام مجالس ایالتي منحل گرددامااغلام اسحق خان که بازدویندي توانسته بودطرفداران خودرابرمجالس ایالتي پنجاب وسرحد مسلط نمایدهرگزحاضرنبودچنین کاري راانجام دهدزیرااومیخواست باراي همین نمایندگان درانتخابات آینده ریاست جمهوري مجدداً انتخاب گردد .

بهرحال گمان رئیس جمهوروحامیانش درست برنیامدزیرانوازشریف بافرمان رئیس جمهوربه مقابله برخاست وبه محکمه علیاي پاکستان شکایت بردومحکمه علیابعدازغوروخوض حکم رئیس جمهوررا غیرقانوني خواند، مجلس ملي رابحال نمودونوازشریف رادوباره به مقام نخست وزیري رساند.

راي محکمه ضربت سختي بودکه بربیکررئیس جمهورفرود آمد واکثریت فکرمیکردندکه غلام اسحق خان به زودي استعفي خواهد داد امابرعکس رئیس جمهورنه تنهااستعفي ندادبلکه به بازي هاي خطرناکتري دست زد .

چون بعدازبرحالي حکومت نوازشریف حامیان اوبه زودي برمجالس ایالتي سرحد وپنجاب غلبه میکردندلذامجالس این دوایالت منحل گردید .

محکمه ایالت پنجاب چندي بعدمجلس آن ایالت رابرحال ساخت اماحاکم ایالت مجدداً آنرامنحل نمود.

مجلس ملي پاکستان تصمیم گرفت پنجاب مستقیماً تحت اداره حکومت مرکزي درآید اماانخست وزیر مؤقت آقاي منظوروتوکه حمایت رئیس جمهوررابا خودداشت این فرمان رادخالت درامورایالت خوددانست وپولیس پنجاب رابراي مقابله باماموررین حکومت مرکزي به حالت آماده باش درآورد وبدین ترتیب خطرجنگ داخلي پیش آمد .

سپس قرارشدنوازشریف بیانیه یي خطاب به ملت پاکستان ایرادنمایداماچون به وساطت عده یي ملاقات میان اووغلام اسحق خان میسرگشت ازایرادبیانیه خودصرف نظرنمود. چندین ملاقات پیهم میان نوازشریف وغلام اسحق خان به اساس پادرمیاني جنرال عبدالوحیدرئیس ستادارتش پاکستان صورت گرفت تاسرانجام نوازشریف وغلام اسحق خان هردودریك روزاستعفي دادند وبدین ترتیب جنگ قدرت پایان یافت .

پایان این جنگ طوري بودکه ظاهراً تمام طرف هاي درگیراز آن اظهارمسرت مي نمایند .

خانم بي نظیربوتو که خوداافروزنده این آتش بودمسروربه نظرمیرسدزیرااویابك تیردوفاخته راانشانه رفته وبایك برنامه هردودشمن خودیعني نوازشریف وغلام اسحق خان رااازصحنه خارج کرده است .

غلام اسحق خان خوشحال است ازاینکه سرانجام مجلس ملي منحل ونوازشریف ازکاربرکنارگردیدواین عملي میباشدکه اوبه تاریخ ۱۸ اپریل انجام داده بود.

نوازشریف نیزخرسنداست زیرااگرچه خودمجبوربه استعفي شداماداشمن اوغلام اسحق خان نیزازصحنه کناررفت، تمام مجالس ایالتي منحل گردیدوحکومت به اشخاصي سپرده شدکه ظاهراً همه بیطرف هستند وبدین ترتیب زمینه یك انتخابات عادلانه مساعد گشت .

اکنون که بااستعفي نوازشریف وغلام اسحق خان جنگ قدرت درپاکستان پایان یافته جنگ دیگري آغازشده است وآن عبارت ازمبارزات انتخاباتي میباشد .

به مجرداستعفي نوازشریف وغلام اسحق خان تمام احزاب سیاسي فعالیت هاي انتخاباتي خودراآغازکرده اند، تلاش هاي زیادي براي تشکیل ائتلاف هاي جدیدصورت میگیرد .

تنظیم هاي اسلامي درصددتشکیل یك جبهه متحد هستند تابه حیث قوت ثالث مانع ازآن گردندکه حکومت دوباره به نوازشریف یاخانم بي نظیربوتوتعلق گیرد. درمیان موقف نوازشریف ازدیگران بهتربه نظرمیرسدزیراجریان امورثابت ساخت که مخالفین اومنجمله خانم بي نظیربوتو جهت بدست آوردن قدرت هیچگونه اصولي رانمي شناسند درحالکیه اوتااخیرپا بنداصول بود.

نوازشریف معتقداست که درانتخابات آینده بادوثلث آراء پیروزخواهدشدومامنتظریم تاازانتخابات چه نتیجه یي بدست مي آید

###

حوادث اخیر درتاجکستان مولود تضادهاي دروني آنکشوراست

عبدالرؤف "طینت"

دراین اواخرکشیدگي اوضاع نظامي درسرحدات میان تاجکستان وافغانستان به نقطهٔ اوج خودرسیده، است وروس هاقشون شانراتحت نام ارتش کشورهاي مشترك المنافع بجانب سرحدِ گسیل داشته اند .

روس هاادعادارندکه مجاهدین افغان دوشادوش مبارزین تاجك درجهادعلیه رژیم کمونستي بذل همت مي گمارند. ولي بحران فعلي نتیجهٔ دخالت کشورهاي همسایه درامورداخلي آن کشوراست . حکومت وقت تاجکستان که پس ازتظاهرات گستردهٔ جوانان تاجك براوضاع آنکشورتسلط یافت، ازآنجائیکه پس ازنابودي ابرقدرت شوروي متوفي اکنون جمهوري فدراتیف روسیه دراخذ سیاست هاي آنکشوردنباله روغرب بحساب میرود ودول اروپائي وروس هاکه بعدازپیروزي مجاهدین وشکست افتضاح آمیزقشون سرخ درافغانستان سرخورده بنظرمیرسند، دست بدست هم داده ومیخواهند باهروسیلهٔ ممکن ازآتش احساسات اسلام گرائي جلوگیري نمایند .

بدین ترتیب بدون درنظرداشت قوانین بین الدول دخالت درامورتاجکستان آغازیافت. ازسمرقندوبخاراکه مربوط جمهوري ازبکستان است وبرخلاف سایرنقاط این جمهوري تاجك ها درآنجا اکثریت دارند، عناصرخرابکاروآشوبگروارد تاجکستان شدند ودست به تظاهرات علیه حکومت آنکشورزدند. بزودي ارتش جمهوري روسیه فدراتیف وارد معرکه شدودوشادوش مشتي از عناصراقلیت کمونیست دربراندازي حکومت آنکشورتشریك مساعي نمود. دراین ضمن عساکرازبکستان به نام ارتش کشورهاي مشترك المنافع وارد تاجکستان شدند وبدین ترتیب حکومت آنکشوررابوسیلهٔ نظامیان وعساکرخارجي ازقدرت برانداختند

ولي سکوت مرگباربرتجاوزکشورهاي خارجي ازجانب مدعیان کاذب دفاع ازحقوق بشرکمافي السابق حفظ گردیدوسازمان هاي دفاع ازحقوق بشرنیزباتبارزهمبستگي باکشورهاي غرب تجاوزولشکرکشي قشون بیگانه رابرخاك آنکشورتقبیح نکردند .

وقتي کمونیست هاقدرت راغصب کردند دست به قتل عام مردم درتاجکستان زده،دارایي واموال مردم رابه تاراج برده، عدهٔ زیادي ازمردم این کشورراکه باسازمان هاي مخالف ارتباطي نداشتند خاینانه به شهادت رسانیدند .

این تنهانبود آنها وقتي بقدرت دست یازیدند مانند سایرنظام هاي فاسدکمونیستي سیستم تك حزبي راپالیسي خویش قرارداده سایرنیروهاراازشرکت درامورسیاسي آنکشوربدورنگهداشتند.

کمونیست هاکه پس ازبرگذاري انتخابات درتمام نقاط جهان به شکست کامل مواجه شده وبه یك اقلیت منفورتبدیل شدند دوباره بوسیلهٔ نیروهاي مسلح جمهوري فدراتیف براي احیاي امپراطوري سابق سعي دربراندازي حکومات منتخب مردم درجمهوري هاي مسلمان تازه به استقلال رسیده نموده مذبوحانه تلاش نموده اندتابرخلاف خواست جامعهٔ بین المللي وقوانین موضوعهٔ حقوق بشردراین راستاگام بردارند .

جاي تعجب دراینجاست که دول غربي قبل اززوال شوروي سابق کوچکترین اقدام کمونیست هارامورد انتقادهاي شدیداللحن خویش قرارمیدادند وسازمان هاواحزابي راکه پیروخط لنین ومارکس بودند درجمع سازمانهاي تروریستي بحساب مي آوردند ، ولي اکنون که تمام آنهادست دوستي بهم داده اندودولت روسیه دنباله روسیاست هاي غرب بحساب میرود ،همان کمونیست هاکه یك اقلیت کوچك راتشکیل مي دهند ،ودزدانه بوسیلهٔ قواي خارجي برعلیه حکومت قانوني تاجکستان قرارگرفته اند، ازجانب دول غربي وسازمان هاي دفاع ازحقوق بشرلشکرکشي وتجاوز به حاکمیت ملي وتمامیت ارضي آنکشورکه مبناي حکومت آن قانوني بود مورد نکوهش وانتقادقرارنگرفته است .

دولت کمونیست تاجکستان که هیچ مبناي حقوقي ندارد وخودغلام حلقه بگوش روس هابحساب میرود وحکومت آنهامانند شاه شجاع بوسیلهٔ قواي خارجي ابقاشده است ، تمام احزاب وسازمان هاي مخالف دولت فعلي راغیرقانوني اعلان کرده وفعالیت آنهاراممنوع اعلان داشته است. آنهم احزابي راکه درانتخابات آنکشوربیشترین آراء را بخوداختصاص داده بودند. هنگامیکه عرصه به نیروهاي مخالف بیش ازحد تنگ ترگردید ومجال نفس کشیدن غیرممکن شدومطبوعات ،رادیووتلویزیون مانند اسلاف آنهادرخدمت یك حزب قرارگرفت، مردم تاجکستان دست به سلاح برده مبارزهٔ مسلحانه راحلال مشکلات فعلي شان تشخیص دادندبدین ترتیب دیده میشودکه تصادمات اخیردرتاجکستان مولودتضادها دروني وغصب خاینانه ودزدانه قدرت بوسیلهٔ نظامیان خارجي بوده ،ربطي به حکومت افغانستان ،آنطوریکه مطبوعات روسیه سعي نموده است پاي افغانستان رادرمیان کشیده ودرتصادمات اخیرکه ابعادگسترده بخودکسب کرده است ، کشورماراذیدخل بدانند، ندارد .

